AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۸/۲۰

# اولادونه

ډاکټره ډېره درنده، ساده او سپېڅلې میرمن وه. یوه ورځ دفتر کې په اولادونو بحث شو. هغې ویل: اوه اولادونه لرم؛ شاید له دې وروسته ورسره کوم بل یو هم ضمیمه شوی وي.

ما ویل ډاکټر صاحب!

خلکو ته د ولادتونو ترمنځ د وقفې او د لږو اولادونو د راوړلو توصیه کوئ؛ خو خپله دې ماشاء الله له نیم درجن هم تجاوز کړی.

موسکه شوه او بیا یې ویل: زما لوښې خوښېږي؛ خو مسلسل مې زامن وزېږول او د لور ارمان ته د رسیدو په هیله، تعداد دومره لوړ شو.

لور او زوی دواړه د خدای ج نعمتونه او د ژوند ضرورېتونه دي؛ خو د دغو ضرورېتونو د ترلاسه کولو لپاره دومره بیړه هم نه ده په کار چې له یوې خوا میندې د ډیرو اولادونو راوړلو له کبله کمزورې او په بېلابېلو تکلیفونو اخته او حتا مړې شي او له بلې خوا اولادونه دومره ډیر شي چې بیا یې پالنه سخته شي.

د نفوسو ډیروالی یوه جدي ستونزه ده، داسې ستونزه چې حتا پیاوړې او د غښتلې او باثباته اقتصاد لروونکي هیوادونه هم ورته د ټینګې نه دي.

وګورئ؛ هندوستان د اقتصاد، طبیعي منابعو، پراخه زرخیزه ځمکو، د کرنې لپاره د مناسب اقلیم په لرلو او د چټک صنعتي پرمختګ سره سره بیا هم په دې نه دی توانیدلی چې له خپل ګریوانه د نفوسو د ډیروالي د ستونزې لاس لیرې کړي. همدا د پیاوړې اقتصاد لرونکی او صنعتي هیواد ،چې آن جاپان ته یې په دې وروستیو کې خپل تولید کړې موټر صادر کړل، د نفوسو ډیروالي وارخطا کړی دی. همدا اوس هم د دې هیواد په ګڼو سیمو کې بېشماره خلک بې کوره دي. آن تر پلونو لاندې او یا په سپین میدان ژوندي کوي، هملته پیدا شي، لوی شي او ومري.

بنه، چې د هندوستان دا حال دی؛ نو زموږ غوندې د غریبو، د نورو پر اوږو د بار هیوادونو به څه حال وي؟ زموږ د راتلوونکیو نسلونو به څه حال وي چې نه مو ورته د ځمکې په سر څه پریښودل او نه تر ځمکې لاندې؟

تاسو به پخوا او اوس د پلازمینې په ګډون په ګڼو لویو ښارونو کې لیدلي وي چې ماشومان آن له کثافاتو شیان راپورته کوي او خوري یې. دا له بنې ورځې نه کیږي.

تاسو به لیدلي وي او وینئ به چې په دې سره لمر کې په منځ سړک کې میندې او ماشومان د لارویانو کرم ته په تمه ناست وي او...

له یوې خوا زموږ وطن د موجوده نفوس د ساتنې ظرفیت هم نه لري، له کلونو راهیسې هره ورځ ترې په زرګونو ځوانان وځي چې څه د قاچاقبرو ښکار شول، څه د سمندري حیواناتو او څه د پردیو ملکونو د سرحدي ځواکونو د نښې ویشتلو د تمرین اسباب شول او څه نورو هیوادونو کې بې برخلیکه پراته دي او له بلې خوا نفوس په چټکۍ ډیروالی مومي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ښه خبره دا ده چې د نفوسو د سرسام اوره ډېروالي د مخنيوي لپاره عامه پوهاوی وشي، خلک وپوهول شي چې د مور او پلار مسوليت يوازې د اولادونو راوړل نه دي، بلکې د هغوی سالمه روزنه، تعليم، صحت او مناسبې زندگۍ برابرولو ته پام کول يې، هم جدي مسؤليت دی.

خلک بايد وپوهول شي چې د ولادتونو ترمنځ وقفه يو الهي امر دی. خدای ج ميندې مکلفې گرځولي چې پوره دوه کلونو پورې ماشوم ته شيدې ورکړي:

"وَالْوالِداتُ يُرْضِعْنَ أَوْلادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كامِلَيْنِ"...

او کله چې ماشوم دوه کاله مسلسل شيدې وځښي، نو په دې حساب د اولادونو ترمنځ حد اقل درې کاله وقفه راځي. ميندو او پلرونو ته بويه چې خپل اقتصاد او د وطن حالات وسنجوي. بايد په دې پوه شي چې اولادونه ښو خوړو، ښه لباس، ښو روغتيايي اسانتياوو، ښه تعليم، سالمې تربيې او... ته اړتيا لري چې دا په فقر او غربت کې نه کيږي . راځئ، د خپل يوه ملگري يوه داسې خبره درسره شريکه کړم چې شاوخوا يوه نيمه لسيزه پخوا مې ترې اوريدلې وه او تر اوسه مې په ذهن کې ده:

د لږو اولادونو د علت پوښتنه مې ترې وکړه، راته ويل يې: گوره، مرگ حق دی او نېټه يې هم معلومه نه ده. که سړی مړ شي او دوه درې واړه بچيان ترې پاتې شي؛ نو نږدې خپلوان يې هم پالنه کولای شي؛ خو که يوه ډله ترې پاتې شي؛ نو بيا خبره خرابيږي او دا ځکه چې خلک خپل اولادونه نشي ساتلی، نو د نورو ډله ماشومان به څنگه وساتي.

رښتيا، هم همداسې ده. تاسو په خپله سيمه او شاوخوا نظر واچوئ او د هغو ماشومانو حال وگورئ چې تعداد يې زيات او په کم عمر کې بې پلاره شوي دي.

رب دې نور هيڅ ماشوم نه بې پلاره کوي او لوی رب دې زموږ ماشومان په سالمه تربيه او سالم فکر را ستر کړي.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ